# دبزگرلور



Ketabton.com

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د غوايي لاندې

لاس و پښې چاودې مخ سپېره شونډې وچې يو کوچنی پښتی غنم يې پر شا را اړولي وو او په ستمې د کور پر لوري را روان دی، بشپړې نهه مياشتې يې خواري کښلې ده او منتونه يې وړې دي، تر څو چې په اخري دوبي (۹۰) منه غنم له بزګرۍ نه ورغلل په دې کې يې (۹) منه غنم ملا صاحب ته زکات ورکړل، (۳۰) منه يې پش ته ورکړل او څلور منه هم (رقبه) ترېنه يووړل، (۲۰) منه يې د هغو دوو زرو افغانيو په سود کې ورکړل کومې چې د ده د پلار د مرګ د خيرات او اسقاط لپاره د يوه سودخور نه په شپېته منه ګټه راوړي وې، په کور کې د ده ماينه او مور او څلور ماشومان د ده لاره څاري او ماشومان يې له کوره راوتلي او د هغې لارې خواته په ډېره اسره ګوري، پر کومه لاره چې د دوی پلار اوس کورته راځي او د رشې غنم راوړي، د ده مور او ماينې د سږ کال د محصولاتو په شاوخوا کې خورا ښې خوږې کيسې کولې او هيله يې وه چې ګوندې سږ به يو څو ورځې په نس ماړه سي، په دې وخت کې ماشومان يو په بل پسې د کور لوري ته راځغلي او ناري وهي چې بابا راغی او غنم يې په شا دي.

بزګر هم پښتی په شا په کور راننووت او پښتی يې د خوني له مخه کښېښود، مور او ماينې په الوتو بنو ترېنه د رشې احوال پوښته چې په دې وخت کې يو سړی ترازو او کانې په لاس په انګړ راکښېووت او په کلک ږغ يې ورته وويل چې: "تا خو ويل پر راشه به

(c) ketabton.com: The Digital Library


غنم د پور په عوض کي درکړم او تا ټوله غنم خپل کورته راوړل، خان صاحب په قهر وو، ویل یې چي دا څلور پنځه میاشتي کېږي چي تا نه (کورغم) ورکړی او نه دي (سړي غم) ادا کړی دی، روپۍ خو نه لري ژر شه غنم راوتله، مور یې چیغي کړې چي دا څو دانې چي ته یوسې نو موږ به څه خورو، ده ورته وویل خاوري!".

سم د لاسه یې اندی راواړاوه او ټوله غنم یې ځیني وتلل او په پای کي یې لا نور هم پسې په قهر خوار بزګر ته وویل چي: "دونه منه خو لا نور هم دربانديي پاته سول هغه به څرنګه سي".

خوار بزګر په داسي حال کي چي له څواشینۍ نه یې پر ستوني درد وو، تش جیوال و ځانده او یوې خوا ته یې کښېښود.

ماشومانو وژړل او په ژړا ژړا کي یې وویل چي: "موږ خو وږي وو، تاسي خو به یوه لپه نیني راکولې، د ماشومانو انا د باندي ولاړه او یو څه شفتل یې په پلو کي راوړه او له مالګي سره یې له ماشومانو سره وخوړه، خو ماشومان په دې تر ډېري مودې قانع نه سول او د ډوډۍ لپاره یې په ژړا پیل وکړ.

خوار بزګر ته اوس د کلي ګاونډیانو پور هم نه ورکاوه، ځکه له یوې خوا د ده ګاونډیانو هم دغه راز د ناداری تکلیف درلوده، له بلې خوا ده چي پر راشه باندي یو دوې کاسې اوړه ترینه پور کړي وو هغه یې بېرته نه وو ورکړي، او خپل اعتبار یې بایللی و، نو وروسته له هغه چي ډېر فکر یې وکړ، له ځانه سره یې فیصله وکړه چي د یوي غويي چي د ده د وروستنی او یواځنی دا رایي وه د هغه په مرسته یې د خلکو بزګري کوله د عیال دقوت او لایموت لپاره حلال کړي او په خپله سترګي نهامي کړي په دې خصوص کي یې د مور او مايني رضایت هم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخيست او د يوې غويي يې حلال کړ چې د عيال د ژمي او منې قتغ سي او په خپله لخي پښې پړانګي پړانګي کالي بلي منطقې له د خوارۍ او مزدورۍ لپاره ولاړ.

ده په يوه توده منطقه کې شپږ مياشتې د خاورو او ختو مزدوري وکړه، ده ته يې د ورځې شپږ افغانۍ ورکولې، چې درې افغانۍ يې په سپوره ډوډۍ خوړلې او درې افغانۍ يې د کور لپاره سپمولې، په پای کې د ده ټوله ګټه (۴۶۸) افغانۍ سوه، چې په (۳۰۰) افغانۍ يې څانته پڼې او کوچنيانو ته يو يو کميس واخيست، دی شپږ مياشتې په کور خبر نه وو، او په خورا بيړه او ښه زړه د کور لوري ته راروان سو چې د کور په وره راننووت او لوز او ماينې يې چيغې کړې.

وروسته ورته څرګنده سوه چې مور او درې ماشومان يې د سکاروي په اثر په منې لا مړه سوي دي، يو ګړی وروسته د کلي ملک وروغوښت او ورته يې وويل چې: "ستا د مور او ماشومانو کفنونه مې ورکړي دي چې قيمت يې (۴۳۳) افغانۍ کيږي او هم مې ستا پر ځای په دې شپږو مياشتو کې (۱۲۳) افغانۍ د (کورغم) او (سړي غم) پرې کړی دی، تا خو ځان نهام او خپلې مېلې دي کولې، ټول غمونه دي پر موږ راايله کړي وو، اوس دستي زما پور چې (۷۴۲) افغانۍ کيږي راکړه" ځکه چې ده دا ټول رقم پر يو ځای نه شو تاديه کولای نو محکمې ته يې کښن کړ او بندي شو چې بيا د دې خوار او د ده د کالۀ احوال چا وا نه خيست[10]

«۱۳۳۰» ش کال ۱۹۵۱ ع کال

---

[10] اوسني ليکوال لومړی ټوک

Scanned by CamScanner

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**